# د پښتون کلتور جمالیاتي علامتونه: یوه عمومي څېړنه

# The Aesthetic Symbols of Pashtun Culture: A Generic Analysis

Issn 2304-1463

Dr Barakat Shah Kakar[1]
drbarkat.uob@gmail.com

**Abstract:**

Aesthetics form the core of creative expression across literature, arts, and various cultural manifestations, serving as a bridge to the intangible essence of human experience. In the Pashtun culture, which is deeply rooted in oral and folk traditions, aesthetic symbols hold a unique place, offering insights into the intricacies of myths, natural and cultural experiences, value systems, tastes, and memories from ancient civilizations. This paper aims to investigate and trace these indigenous symbols of aesthetics as they are embedded within Pashtun cultural practices, rituals, and folk literature. By examining these symbols, the study seeks to reveal the underlying values and philosophies that have been preserved through centuries of oral transmission. In doing so, it underscores the enduring legacy of Pashtun cultural expressions and their capacity to reflect, reinforce, and reshape cultural identity.

**Key Words:** Aesthetics, Pashtun culture, Oral tradition, Aesthetic Symbols, Folk literature

## پېژندګلو:

د پښتو په علمي، تحقیقي او ادبي بهیرونو کښې د کلتور او جمالیاتو د تړون موضوع څېړني بیخي لږ تر سترګو کیږي ، موږ ته د ګوتو په شمېر ځیني لیکوالان مخي ته راځي چي دغۀ موضوع یې یله برڅېړنه بیان کړې ده او بیا مخي ته تللي دي- جمالیات چي په عمومي توګه ورته د ښکلا فلسفه وئیل کیږي، د آرټ، هُنر او زوق تعبیرونه وړاندي کوي، پخوا جمالیات د فلسفې برخه ګڼل کېده، خو د جرمن فلاسفر بام ګارټن د علمي استدلال له رویه "جمالیات" د یوه بشپړۀ مضمون بڼه موندلې ده، بېلابېل فلاسفران د جمالیاتو د څرنګوالي او جمالیاتي قدرونو او ارزښتونو په حکله بېل نظرونه لري، خو دا خبره جوته ده چي د جمالیاتي احساس، ادراک اور زوق جرړي د یوه کلتور او ټولني ځانګړي وي، یو څیز که په یوه ټولنه او کلتور کي ښه، ښائسته، او غوره ګڼل کېږي، کیدی شي د نړۍ په بله انساني ټولنه کښې هغه دومره ښکلائیز ارزښت او قدر ونه لري-

---

[1] Dr Barkat Shah Kakar, Associate Professor and Chairman Department of Pashto University of Balochistan

په اوسني وخت کښې چې د نړۍ قامونه او ټولني د لاس د ګوتو په څېر په يوه ځرمن کښې سره تړل شوي دي، نړۍ د يوه کلي بڼهٔ خپله کړې ده، لرغوني، روايتي يا پخواني دودونه، د ژوند ژواک لاري چاري، قدرونه، زوقونه، خوراکونه، جامې لنډه دا چې هر څه په بل مخ اوښتي دي، د نړۍ په لويو او کوشني ښارونو کښې د خوراک، څښاک،جامو، موسيقۍ،آرټ، سوارلۍ، بازارونه، مارکيټونه، او د عام ژوند لپاره کارونکي توکي او څيزونه د ملکي يا بهرني کمپنيانو او کارپورېشنانانوجوړ دي، ځکه نو د لرغونو کلتورونو ځرمني (پوستونه) په تدريجي او غير محسوس توګه ورو ورو اړول شوي دي-

نه د کلتور د مادي شناخت کړهٔ وړهٔ په نظر راځي او نه هغهٔ اقداري نظام چې انساني ټولنيو د خپل بود او بهبود لپاره د تاريخي عمل په اوږدو کښې تخليق کړي وو- په اوسنيو کي د نړۍ مشهور دانشور او ليکوال "يوال نوحا هرېرې" چې پر اوسمهاله انساني ټولنه،تاريخ او فلسفه نظر لري د کلتور په حکله په خپله يوه وېنا کي وائي،

" مصونوعي زهانت به ډېر ژر کلتور او مزهب په بله واړوي"(1)

په هم دغهٔ مرکه کښې هرېري پر جمالياتو خبره کوي او وايي چې په روايتي توګه چې کوم جمالياتي قدرونه او زوقونه انساني ټولني په اجتماعي توګه تخليقول، اوس دغهٔ وظيفه ورو ورو د مصنوعي زهانت (آرټيفيشئيل انټيليجنس) و لورته روانه ده، د ښکلا يا جمالياتو په زوقونو کښې په نړېواله سويه يکسانيت يا يو رنګي را روانه ده-

د کلتور په حکله موږ بس دومره وئيلی شو چې دا يو اجتماعي تخليقي عمل دی چې يوه ټولنه يې په خاص وخت او ځای کښې تخليقوي، کلتور د ضرورت تابع وي او ضرورتونه د کلتور مادي، اخلاقي او اقداري سانچې جوړوي، ضرورتونه فطري هم کيدلی شي، انتظامي، معاشي او قانوني هم،

د لرغوني پښتني ټولنه انحصار پر خپل ځان ؤ، د خپل ضرورت هر څه هم دلته جوړيدل او تخليق کېدل، د کلتور مادي او غير مادي برخې د اولسونو د اجتماعي تخليق په نتيجه کښې رابرڅېره کېدل-

که موږ د پښتني ټولنيو يوه عمومي جائزه واخلو نو اوله خبره خو دا ده چې د يويشتمي صدۍ په درېمه لسيزه کښې اوس هم پښتانهٔ چې څه ډول په انتظامي او سياسي توګه سره پاشلي دي، هم دغهٔ ډول د ژوند ژواک په حکله يې هم ځرګنده بيلتون موږ ليدلی شو، يوه خبره

چې د اوس مهاله بشرپوهانو له خولې په وار وار راوځي هغۀ هم دا ده چې پښتانۀ نړۍ پر مخ تر ټولو لويه نسبي قبائلي ټولنه پاتې شوې ده، خصوصا فريډک بارت او چارلس لنډهوم دغۀ نظر په بشپړۀ ټولنيزو څېړنو د استدلال په ډول کوي، د پښتنو د دې اوږدمهاله او ځنډيدونکي قبائلي نظام تر شا بنيادي لامل هغۀ راتپل شوي جنګونو دي چې په تېرو پينځو لسيزو کښې پکي شکېل دي، د هم دې سوبه پښتانۀ په کوچياني دوره کښې هم ژوند کوي په زرعي کليوال او صنعتي ښاروال ه ټولنه کښې هم پاشلي دي، د پاکستان او افغانستان د سر شمېرني د راپورونو څخه موږ په دې حقيقيت رسيږو چې د پښتنو لويه برخه (اويا فيصده) اوس هم په کليو کښې اوسيږي، ځکه نو د نړۍ د نوي جهاني تهذيب که څه هم ورباندي اثراندازه شوی دی، خو بيا هم د کلتوري ادارو، اقدارو، رواياتو او علامتونو ژوندي پاتېدل اوس لاهم يو قوي امکان دی- چيري چې د کلتور اقداري نظام کُلي توګه فعاله وي هلته د کلتور داخلي حرکت هم ژوندی وي او د هغۀ سره يې هغۀ ټول مفاهيم هم ژوندي وي او معناوي ښندي چې د يوه تاريخي عمل په تسلسل کښې د يوه نسل څخه و بل ته سپارل شوی وي

نن هم يو کوچياني، کليوال او ښاروال (د پښتنو په ښارونو کښې) پښتون چار چاپېره په يوه ژوندي کلتور کښې اوسي،ژوند کوي ،ورځ، شپه، غم، ښادي، ښه او بد، خورک څښک، عبادت، مېلمه، کوربه، هر څه د يوه کلتوري عمل تر سايه لاندي کويد ښه او بد تصور، د نېکۍ او بدۍ، ،د دوستۍ او دوښمنۍ، د جنګ او امن ،قام قبيل،اصل او کم اصل، سپين تور، پېغور، لغاز، رمز، کنايه، ، لنډه دا چې د هر څه په حکله هغۀ ني يواځي پوره او کره معلومات لري، بلکه په عملي ژوند کښې ادراک هم لري، پوهيږي او بل څوک هم پوهولۍ شي- د دې سره چې ټولني کوم معيارونه، نرخونه، او روئيې پاللي دي پر هغه عمل هم کوي، او که چيري يو څوک تر دغو معيارونو پښه اړوي، يا سپکاوۍ ورته کوي نو خپل غبرګون هم په څه نا څه توګه ورته ځرګندوي-

د پښتون کلتور د جمالياتي قدرونو او علامتونو قصه هم داسي ده، که څه هم د نوي جهاني کلتور په دې مصنوعي مشيني دور کښې د پښتنو د پيداوار آلات هم بدل شوي دي او د پېدوار وسيلې هم ، د پخواني ژوند ډير علامتونه او قدرونه ورو ورو د ژوند او اجتماعي

یاداښت څخه کېږه کوي، خو بیا هم د دې هر څه نخښې نښانې زموږ په روزمره ، محاوره، متل،فوکلوري شاعرۍ ،اوسمهاله جدید شاعرۍ او مصورۍ کښې لا هم ژوندي دي-
په دې مقاله کښې د لرغوني او اوسني پښتني کلتور د جمالیاتي قدرونو او علامتونو جائزه اخیستل شوې ده، که څه هم وخت او ذمانه بدل دي خو د جمالیاتي زوق او علامتونو ژوندي پاتې کېدل یوه داسې پدیده (مظهر) دی چې پښتنو د کلتوري ټولنې د اجتماعي یاداښت فعالیت څرګندوي-

## جمال څه دی؟

د تاریخ په اوږدو کښې جمالیات د فلسفې یو ښاخ ګڼل کیدی، آرټ د فلسفې، او د حُسن د سائنس په نامه یاد شوي دي، خو الیګزینډر بام ګارټن په لومړي ځل په ۱۷۳۵ کښې د حسن د فلسفې لپاره د Asethetic ټکی کارولی دی او دغه موضوع ته یې د یوه بشپړه مضمون په نظر کتلي دی. د دې وروسته "جمالیات" د یوه بشپړۀ مضمون په توګه رامنځ ته شوی دی چې اړیکي یې د ټولنیزو علومو، کلتوري بشرپوهنې،مذهب او فنونو سره تړل شوی دی- البته دا خبره په پام کې نیول پکار ده چې د فن د فلسفې په توګه د جمالیاتو تعلق د لطیفو فنونو سره دی، او فنون لطیفه د مشاهدې، لوست ، مطالعې) یا اوریدلو (سماعت) لپاره تخلیق کیږي-

د جمال، ښکلا یا حُسن په حکله هم دومره اوږده او دوامداره فلسفیانه بحثونه شتون لري چې د حسن یو تعریف ورڅخه را ایستل ګران کار ایسي. ښکلا یا حُسن خیر دی،ښکلا نظم دی، نظم ښکلا ده، حُسن مقصد بالذات دی، ښکلا د خوښۍ یا خوشحالۍ او اطمینان احساس زیږوي، دا ټول داسې نظرونه دي چې جمال ابدي خیر ګڼي- د فلسفې، نفسیاتو، دینیاتو، ټولنپوهنې، بشرپوهنې او نورو علومو لیکوالانو د جمالیاتو تعریف د خپل ځانګړي علمي ډګر په آئینه کښې کړی دی- په دې حکله د محمد هارون د یوې چاپې مقالې څخه مرسته اخلو:

> "د شاعرانو ادیبانو جدا ، د صوفیانو بېل د عقلیت مادیت او روحانیت د نظرئې د منونکو هم خپل جدا خیال دے - د تصوریت د مکتب فکر خاوندانو حسن یو "تصور" اوبللو - مادیینو د جسماني

> تناسب ، اعتدال او توازن ته د حسن و جمال نامه ورکړه - د یونان فلسفیانو حسن ته "خیر محض" اووئیلو - او ځیني مفکرینو ورته د افادیت په نقطه نظر د حسن نامه ورکړه یعني چې کوم څیز د بني نوع انسان په خیر ښېګړې راتلی شي او فائده مند وي هغه حسین دے - د رومیانو په نزد د تناسب،عظمت او طاقت نوم حسن دے او چا لطیفه فنون (مصوري ، شاعري ، موسیقي وغیره) ته حسن اووئیلو -"(2)

په آرټ کښې چې چیري د جمال کیفیتونه په رنګونو ،رږغونو ، لفظونو او انځورونو کښې را غونډ شوي دي، هغوی د انسانانو پر اجتماعي جمالیاتي حِس او زوق ژوري اغېزي اچولي دي، شاعر، مصور او موسیقار دغو کیفیتونو ته ابدي ژوند وربخښلی دی- سید رسول رسا په خپل کتاب "ادبي تنقید" کښې دغه هُنر او جمالیاتو ډیر ترمنځ د تړوُن یوجامع تعریف راوړی دی: هغهٔ لیکلي

> "شاعري الفاظو مصوري ده، مصوري د رنګونو شاعري ده،موسیقي د اواز جادوګري ده-" (3)

جمال او د کلتور د تخلیقي توان

ښائست، ښکُلا ، کښُلا یا حُسن داسي ټکي دي چې په اوربدلو یې موږ یو خوشګوار او معطره کیفیت محسوسه ؤ، د ژوند د نورو بېلا بېلو تجربو غوندي د ښائست او حُسن د لیدلو ، کتلو، اوربدلو، یا مس (ټچ) کولو تجربه هم زموږ په اجتماعي لاشعور کښې ثبت وي، ځکه انساني ټولنو و دې خوشګوار کیفیتونو او احساساتو ته رږغا او ژبه هم ورکړېده ،ټکي او اصطلاحات یې ورته تراشلي دي، علامتونه او نخښې یې ورته ټاکلي دي، تصویرونه یې جوړ کړي، کاڼي ، ډبري او لرګي یې توښلي دي-

د فرډیننډ ډي سائیسر له قوله چې ژبه د مکمل نظام په صورت کښې د ویونکو په زهنونو کښې پائیښت او وده کوي چې هغهٔ (La Langue)ورته وئیلي دي، علامتونه د دې نظام خښتي دي چې و خیالاتو او احساساتوته د اظهار او معناقوت وربخښي(4) هم دغه ډول په ژبه کښې د جمالیاتي علامتونو معناوي او مفاهیم نغښتي او خوندي وي- د سوسئیر په وینا ، هر علامت له

دوو برخو جوړ شوی دی: یو یې دال (signifier)او بل یې مدلول .(signified)دال هغه بڼه ده چې موږ یې ګورو یا اورو (لکه یوه جمله یا تصویر)، او مدلول هغه مفهوم دی چې دا بڼه یې څرګندوي.(5)

حقیقت هم دا دی چې انسانانو د خپلو حسي تجربو اظهار یا خو په لفظونو (ټکو) کښې کړی دی، یا بیا یې په رنګونو، سازونو، راګونو، دږغونو او انځورګرۍ کښې- د اظهار دغه ټولې وسیلې د لطیفو فنونو په دائره کښې راځي-
جمالیات د نورو علومو د تاریخ په اوږده پېر کښې د فلسفې ښاخ بلل شوی دی،په لاطیني ژبه کښې ټکی Aisthesthai د درک یا ادراک لپاره کارول شوی (6)، کوم څه چې د حواسو په مرسته ادراک و مومي یا محسوس کړل شي هغه ته Astheta ,وئیل کیږي، هم دغه ډول له دې څخه ټکی Aistheticks په وجود کښې راغلی دی چې د لاطیني سره سره جرمني ژبې هم خپل کړی دی- البته په جرمني ژبه کښې د دې ټکي نسبت د ښکلایز حقیقت د ادراک یا احساس سره تړل شوی دی. وروسته په نولسمي مېلادي صدۍ کښې دغه ټکی د Aesthetic په بڼه انګریزي ژبې ته د هم دې معنا سره وارد شوی دی- د اتلسمي میلادي صدۍ په منځ کي دا پوښتنه یو ځل بیا رامنځ ته شوه چې د ښکلا او حسن حقیقت څه دی، تر دې مهاله د جمالیاتو بحث د فلسفې په چوکاټ کښې سنجول کېدی-

سقراط د حسن نسبت د لوړو اخلاقو سره تړي، ارسطو حسن ، د حسن فطرت یا رغښت د لطیفو فنونو سره لازمي ګڼلی دی، په ریپبلک کښې هغه د وګړو لپاره دغه علم زده کول مهم ګڼي(7) - هم دغه ډول جرمن فلاسفر ایمیونل کانټ د حُسن په رغښت کي و فورم (جوړښت ) ته اولیت ورکوي(8)

حُسن د آرټ جوهر یا روح بلل کیږي- جرمن فلاسفر هېګل په دې کلک یقین درلود چې د ژوند د محبوب د ذلفو کړلیچونو د ښکلا په شانه(رمونز) آراسته کېدلی شي. هغهٔ فکر کوي چې آرټ د فکري لوړتیا روزنه کوي، د ښېګړي لپاره حرکت او عمل ته امادګي پیدا کوي، او

وګړي و یو ذمه واره عمل ته تیاروي- هېګل د ښکلا ادراک د آزادو حواسو سره تړي، کوم خلګ چي آزاد حواس نه لري، د محکوم، غلام یا مجبور شعور سره ژوند کوي، هغۀ د ژوند ،فطرت یا ټولني د حُسن ادراک نه شي درلودلی، ځکه نو آرټ د حُسن له لاري په ټولنیز، سیاسي، معاشي او کلتوري پړیو تړل شوي وګړي روزي او هغوی د خپلي آزادۍ لپاره هڅوي، آرټ علامتونه کاروي، د علامتونو او تمثیلونو په مرسته آزاد اولسي شعور، وجدان، او حسي تجربو ته د اظهار ژبه وربخښي(9).

## جمالیاتي حِس، ذوق او جمالیاتي اقدار:

د جمالیاتو د څرنګوالي په بحث کښي مور ته دري خبري په لاس راځي، اول دا چي ځیني لیکوالان جمال یو خارجي مظهر ګڼي، ځیني یې داخلي او ځیني بیا د داخل او خارج د اختلاط یا ګډون نظر لري چي ورته "وحدت جمال"وائي، البته په دې حکله دجمالیاتي حِس، ذوق او جمالیاتي قدرونو په حکله هم اوږده بحثونه وجود لري- و خپل اصل موضوع ته را غبرګېدو په خاطر دلته زه یوائې د ډاکټر نصیر احمد ناصر چي په جمالیاتو کښي یې ډي لیټ (ډاکټر او لټریچر) کړی دی او د قرآن مجید پر جمالیاتي جوهر یې د "حُسن قرآن" په نامه یو ډیر عالي تفسیر هم لیکلی دی، د جمالیاتي حِس، ذوق او قدر په حکله یو کوټلی نظر وړاندي کوم:

> ''جمالیاتی ذوق کے انداز و رنگ بدلتے رہتے ہیں، محاسن و حقائق نہیں بدلتے، اقدار نہیں بدلتیں، اقدار عالم دہر کی پیداوار ہیں، اس لئے اسکے رنگ ابدیت و ہمہ گیری سے مزئین ہیں،۔۔۔ اس حقیقت کو ہمیشہ پیشِ نظر رکھو کہ دہر کی طرح اقدار نہیں بدلتیں، ایام کی طرح انکے انداز بدلتے ہیں، اقدار کا رشتہ انسان کے جمالیاتی حِس سے ہے، جس طرح جمالیاتی حِس عالمگیر و وہبی اونا قابل تغیر و تبدل ہے، اُسی طرح اقدار بھی فطری، ابدی، عالمگیر اونا قابل تغیر و تبدل ہیں۔۔۔ چونکہ ذوق اپنے زمانے اور ماحول کی پیداوار ہوتا ہے،

اس لئے ہر زمان و مکان میں اختلاف و تضاد پایا جاتا ہے اور ان کے بدلنے سے ذوق بھی بدلتا رہتاہے'' (10)

د ډاکټر نصیر احمد ناصر د دې جامع او پُرمغز اقتباس څخه زموږ ته د دې بحث ځني پیچلي تصورات اسانه کیږي، اوله خبره دا چي جمالیاتي زوق چي پر کومو حواسو تکیه کوي هغۀ کائناتي یا آفاقي دي، البته د وخت او ځای، فطرت (محیط) او چاپېریال د بدلون سره زوقونو یو ډول نه پاتیږي، د ښکلا ، خوند ، رنګ،بوی او ږغ د زوق بېل بېل ذوقونو تخلیقوي، کله چي خبره د جمالیاتي قدرونو ته راشي نو هغۀ پر دې سخت ټېنګار کوي چي د حُسن حقیقتونه، او قدرونو د ذمانې یا وخت د بدلون محتاجه نه وي، بلکه دا اټل حقیقتونه دي چي تعلق یې د انسان د جمالیاتي حِس سره دی، لکه څه ډول چي جمالیاتي حِس باطني، فطري او اټل دی هم دغۀ ډول د جمال قدرونه هم افاقي، اټل او مطلق دي- دلته د دې خبري سپیناوی ضروري دی چي د ډاکټر نصیر احمد ناصر د جمال تصور او د هغۀ سره تړلي نور تاویلونه د مذهب په چوکاټ کښې سنجول شوي دي- د دې نظر سره که څۀ هم د مابعد جدیدیت د مباحثو په رڼا کښې د اختلاف ډیر امکان شته چي قدرونه اټل (Absolute)نه بلکه اضافي (Relative) دي، خو موږ تر دې پیچلي بحث څخه ډډه کوو ، مخته ځو ،دریمه خبره په لوړ اقتباس کښې د ذوق په حکله شوې ده، هغۀ دا چي ذوق دوخت (ذمانې) او ځای (مکان) سره بدلیږي، د یوه ملک په بېلابېلو سیمو کښې د اولسونو د رنګ، خوند ، بوی، ږغا او سماعت د ذوقونو سرچینې سره بېل کیدلی شي خو البته دومره ده چي د موسیقۍ او شور تر منځ توپیر د نړۍ په ګوټ ګوټ کي خلګ سره جلا کولی شي- د یو شاهکار عکس او د کاغذ پر مخ کښل شویو بې ربته کرښو تر منځ فرق هر ځای هر څوک کولی شي- عن تر دې ښه او بد بویونه، په ترتیب او هُنر سره جوړ کړل شوی دېوال، عمارت، کلا ، مجسمه، جامه، پېزار، خولۍ (ټوپۍ)،مېز، کرسۍ، کټ، لنډه دا چي هر څه چي په مادي کلتور کښې راځي اولسونه یې خوښوي، او د دې برعکس موږ د نړۍ په هره کلتوري ټولنه کښې وینو-

## د پښتني کلتور جمالیاتي علامتونه:

پښتونولي د پښتون کلتور د غیر مادي،اقداري،قانوني او رواجي نظام نوم دی چي د پښتنو د روزمره ژوند احاطه کوي-البته جامه، پېزار، خورکونه، اوزار، وسله، تعمیرات، د

موسیقۍ آلات، دمادي کلتور عناصر دي - د کلتور د مادي اوغېر مادي برخو تر منځ يو دوامداره او ژوندی تړون موجود وي- مادي او غېر مادي برخې د کلتور د يوې سيکې دوه رُخه (اړخه) دي- چيري چي رسمونو، خويونه، خصلتونه، وېري، زوقونه، رنګونه او اسطورې د اولسونو په اجتماعي تجربو، حافظه او سماجي روئيو کښې غزوني کوي هلته د مادي کلتور پر تخليق هم بشپړه اثرات اچوي-

کله چي موږ د پښتني کلتور خبره کوو نو مُراد مي دکليوالي او کوچياني ټولني د ژوند ژواک دی، ولي چي په لويو ښارونُو کښې د پښتني ژوند کړۀ وړۀ واضح نه دي، ځای په ځای په رياستي انتظام او ښاري کلتور کښې ورګډ شوي دي او ځای په ځای يې په لويو ښارونو کښې يوځای اوسي او تر ډيره حده د کليوال کلتور قدرونه عملي کوي- دا چي کلتور د زراعت پيداوار دی او تهذيب د ښار او صنعت يوه بيانيه موجوده چي پاکستاني کيڼ اړخي ليکلوال سبط حسن يې په خپل کتاب ''*پاکستان میں تہذیب کی ارتقا*'' کښې تر ډېره حده په دلايلو دفاع کړې ده (11) که دغه بيانيه په نظر کښې ونيسو نو دا خبره لږ شان اسانه کيږي-

## د پښتون کلتور لرغوني جمالياتي علامتونه:

د پښتني کلتور جمالیاتي علامتونه د پښتنو د شناخت، ، ښکلا پېژندنې او هنري ذوق مهمي نښې نښانې دي. دغه علامتونه په هغو هُنرونو، زوقونو، موسيقۍ، ادب، او معمارۍ، دستکارۍ (غالۍ او کراستي جوړوني)، د خټينو لوښو، د ترکانۍ (د لرګي) په ډيزائينونو، جامو، ګېڼې (زيورات)، ادب او آرټ کښې تر سترګو کيږي چي پښتني ټولني د کلتوري عمل په نتيجه تخليق کړي دي، دغه علامتونه د پښتنو د تخليقي هُنر ښکارندويه هم دي او د دې سره د پښتني کلتور د اولسي پوهي او هُنر، اجتماعي حافظې يادابنت، او تاريخي لاشعور هم ډېر ځه ورڅخه را ځرګنديږي-

کله چي موږ و رنګونو ته ځير شو نو په عمومي توګه پښتانه روښانه رنګونه خوښوي- زرغون، تور، شين، ژېړ او سره رنګونه په جامو، غاليو، او کراستو کښې کارول کيږي- که پر دغو د جوړو ډيزائينونو او رنګونو څېړنه وکړو نو په هغۀ کښې د درو، څلورو او شپږو کونجُونو

ډېزائنونه، کُرې (ګول) ډېزائېنونه، ځنګلي ګُلانو، بُوټي، او مرغان په نظر راځي- څلور کونجه (سکوئير) ډېزائين د غالۍ جوړوني، دستکارۍ او د خونو د ښکلا لپاره په تواتر سره کارول کيږي- جېنټ هاروي چې د مرکزي آسيا د رخت جوړوني پر ډېزائينونو يې کتاب ليکلی دی څلور کونجه ډېزائن د توازن، قوت، يواولي علامت ګڼي(12) خو د دې سره د دې ډېزائن نور تاويلونه هم دي لکه څلور موسمونه، د مځکې څلور خواوي (سمتونه)، د کائنات څلور توکي (عناصر) لکه اوبه، اوور، خاوره او هوا او داسې نور- خو په لرغوني پښتني لاشعور کښې د دغو انځورونو او ډېزائينونو شتون د څه خاص علمي، فلسفيانه يا تجريدي فکر نه دی تړلی، داسې ښکاري چې دغۀ رنګونه او ډېزائينونه د يو تاريخي تسلسل او تهذيبي ورثې په توګه له يوه نسل څخه بل نسل ته سپارل شوي وي، په دې علامتونو کښې تر ټولو مهم علامت د سواستيکا نښان دی، کوم چې د څلور کونجه دی او د هر کونج ليکه يې پر ښا لاس غبرګيږي ، داسې ښکاري لکه د هر کونج څخه چې يو چينګک يا خنجک جوړ شوی وي، په انګلسي کښې ورته (Hooked Cross)وائي-

د سواسيکا نښان اوس هم د نړۍ په ډېرو مدنيتونو او کليوالو سيمو کښې موندل کيږي، په پښتني چاپېريال کښې که موږ د دستکارۍ و بېلابيلو اولسي نمونو ته ځير شو يا د کليوالو ښځو پر تندي يا رخسار د جوړو خالونو مشاهده وکړو نو دلته خصوصا په سهيلي پښتونخوا کښې او د افغانستان په کليوالو او کوچياني اولسونو کښې د سواستيکا نښان ښخې ذيات په نظر راځي- د سواستيکا نښه ډېر زوړ تاريخ لري- تهامس ويلسن په خپل کتاب کښې دغه ټکی د سنسسکرت ژبې ګڼي او د دې معنا "نېکمرغي" او "خوشحالي" ښي (13)دغه نښې د سهيلي پښتونخوا په پښتني ټولنه کښې د دروند رېږغ، نظرمات، بلا او جناتو د اثر څخه د خلاصون نسخه ګڼل کيږي، خصوصا په کوم کور کښې چې کوشنی وزيږي هلته دغۀ نښان په شنه نيل (نيل توتيا) د هغۀ خوني پر مخ جوړيږي چيري چې نوی زيږېدلی کوشنی او د هغۀ مور پاتي کيږي- جالبه دا ده چې هغه ماشومان چې پل يې اخيستی وي، او ښکلي وي، کله چې نوي جامې ورته واغوندل شي نو مور يې تر قميص لاندې پر سينه هم دغۀ د سواستيکا نښان په رنجو جوړ کي، اوس په کليوالو سيمو کښې کوشنيان ودې ته "جهاز" وائي، چې اوصل و جهاز ته ورتوالی هم لري-

دغهٔ نخښهٔ د پښتنو په ژوندي کلتور کښې د آريائي کلتور هغهٔ پاتي شونې ده چې د ژوند او نسل د تسلسل ،روغتيا او بريا علامت ګڼل کېده- په عمومي توګه سواستيکا يواځې د آريائي تمدن نخښهٔ نه ده بلکه د نړۍ په نورو پخوانيو مدنيتونو لکه ميسوپوټاميا، جاپان، يونان، روم،لرغونې امريکا، چين او شمالي يورپ کې د هر کلتور په رغښت کې خپل ځان ته ځای او معنا موندلې ده-

د سواستيکا د دې نښان پرته زموږ په ژوندي کلتور کښې ځينې داسې رسمونه هم وجود لري چې د هغهٔ تر شا پخوانۍ فلسفه يا اسطوره ورکه شوې ده، د بېلګې په توګه زموږ د سُهيلي پښتونخوا د واده ډېر رسمونه چې د خېر، برکت، او پائښت انځورونه کوي اوس هم دوام لري، د مثال په توګه د سپېلنيو دودول يواځې دانه چې په پښتني ټولنو کښې دوام لري، بلکه د هندوستان او مرکزي آسيا په ډيرو سيمو کښې اوس هم په کليوالو سيمو کښې د بلاګانو، بدو ارواحو، سايو، حسداو نظر بد لپاره د سپېلنيو دودول يو دود دی- په معاصر پښتو شعر کښې ډيرو شاعرانو سپېلنې د رقيبانو د نظر بد، او تر خپل جان د قربانېدلو په معناوو کښې راوړې او کارولې دي-

که په اوسني او ژوندي پښتون کلتورکښې د جمالياتي علامتونو لټون وکړو نوتر ټولو روښانه غبرګون يې په فوکلوري ادب کښې شوی دی- پښتنو د پخوانيو قبائلي عربو غوندې يواځې دلفظونو (ټکو) په مرسته د خپل کلتور او ژوند ژواک تجربې د ادب په بڼه خوندي کړې دي، د تخليقي اظهار وسيله که پخوا فوکلوري ادب او موسيقي وه ، نو نن هم دغه دوې وسيلې دي چې د هينداري غوندې موږ ېکښې د خپل کلتور او ژوند ژواک بشپړهٔ څېرې ليدلی شو- که د جديد يا نوي شاعرۍ خبره شي نه د هغه ختهٔ هم د لرغوني ژوند ژواک څخه اخيستل شوې ده- خيالات ،منظرونه، تصويرونه او علامتونه د پروني ژوند د تجربو څخه را اخلي، که څه هم په ذياترو سيمو کښې د لرغوني کلتور مادي منګی توکي او علامتونه د نوي ښاري کلتور او د آزاد معيشت او صارفي کلتور په سوب له ژونده کډه شوي دي، خو انعکاس اوس هم په شعر او ادب کښې هم هغهٔ سي روان دی- ګدر، منګی، شين خال، دنداسهٔ، پېزوان، نته، چارګل، پازېب،امبل او د پخواني ژوند نوري شتمه منۍ متروکه شوي دي خو د ښکلا دغهٔ علامتونه اوس لا هم په تخليقي اظهار کښې ژوندي او توانمن پاتي دي-

لکه څنګه چي وختي مو ؤ وئيل چي د کلتور اقداري نظام د کلتور پر جمالياتي تصوراتو نېغ په نېغه اغېزه لري، کله چي مونږ د پښتنو د مخصوص جامه او پېزار جائزه اخلو نو د هغۀ سره تړلي ډېري سندري، د اتڼ ناري، کاکړۍ غاړي، د نکل ناري، چاربېتي، او نورو نظميه صنفونو کښې مونږ هغۀ د جمالياتي ارزښت او د هغه سره د تړلو قدرونو جائزه اخيستلی شو- که د سُهيلي پښتونخوا پر دوو فوکلوري صنفونو کاکړۍ غاړه او د پر اتڼ نارو بسيا (اکتفا) وکړو او ورسره ټپه لږ و ډېره وڅېړو او د جمالياتي قدرونو او علامتونو لټون پکښې وکړو نو خبره به را لنډه شي- لمن يې تر سُهيلي پښتونخوا هم رارسېدلې ده، ځيني بېلګي ورڅخه راخيستلی شو-

پر سر دي شال، په تندي خال

نری شمال، منګی په لپو ډکوينه

زما په نزد په دغۀ ټپه کښې ډېر څه راوړل شوي دي،او دا ټپه د کليوال پښتني ژوند يو داسي بشپړۀ منظر په زهن کښې جوړوي چي يو تکړه انځور ګر يې په ډېره آساني او هُنر سره د کينوس پر سينه جوړولی شي- شال ، خال او منګی درې واړۀ پخوا هم رومانوي علامتونه ؤ او نن هم دي- دټپه د نېچر سره د تړلي او نزدې ژوند تر ټولو ښه عکاسي کوي، شمال چي کوم احساس په ټپه کښې بيانوي، هم هغۀ احساس په کلاسيکي شاعرۍ او اوسمهاله شاعرۍ کښې هم ژوندی دی- د دې سره سره په يوه بله ټپه هم داسي منظر وړاندي کوي:

په لختي ټوپ که بيا راټوپ که

چي د اوربل روپۍ دي ګډي وډي شينه (14)

په دې ټپه کي يو رومانوي منظر راخيستل شوی دی، تر لښتي (وياله)د ټوپوهلو په سوب اوربل شانه وانه کېدل، او د اوربل روپۍ ګډي وډي کېدل د يوې شوخي انجلۍ متحرک انځور جوړوي-

ته بختور يې سوداګره

چي ملغلرې خرڅوې شمېرې خالُونه (15)

په دې ټپه کښې يو کليوال منظر موږ ته په نظر راځي، سوداګر يا منجاری دملغلرو پلورلو لپاره راغلی دی، پښتنې که د عام وګړو څخه پرده کوي خو د منجاري څخه مخ نه پټوي، او سوداګر د دې کلتوري رعايت څخه پوره پوره ګټۀ اخلي، او انجونو د جمال ننداره کوي- په دې ټپه کې ملغلري او خالُونه د پښتني کليوال کلتور دوه ښکلائيز علامتونه راوړل شوي دي- د دې علاوه په ټپه کې موږ دوسمال، بنګړي، سمال، سُور ګل، خالُونه، فالونه، د مرغانو آوازونه او نور ډير بلها ښکلائيزي نخښې راوړل شوي دي- د بېلګې په توګه لاندې ټپې د لوستلو دي:

مابنام مي يار سره نښته ده

د لاس بنګړي مي په دوسمال تړلي دينه(16)

خبري کړې شونډي دي ريږدي

لکه سور ګل چي د سحار شمال وهينه(17)

هلک چي تورشي لونګين شي

انجلۍ چي توره شي بنګړي دي خرڅوينه (18)

خال مي د کونډې په مخ اوليد

ورارې شه جونه چي دوی نه وهي خالُونه (19)

رب دي له لري را روان که

په فال دي نيسم د مارغانو آوازونه (20)

که چیري مونږ و کاکړیو غاړو ته ځیر شو نو ډیري ټيپې او غاړې مِن و عنَ یو مضمون لري، خو دلته مونږ خبره د جمالیاتي نخښو کوو نو د ځینو غاړو ذکر به وکړو، د یادوني ده چي د ټپې غوندي د کاکړیو غاړو پر ټولونه هم ښه کافي کار شوی دی، پروفیسر سیال کاکړ، صاحبزاده حمیدالله، سید خېر محمد عارف، ډاکټر صادق ژړک، پروفیسر کریم عامر، غازي محمد حسن او نورو لیکوالانو د بېلو بېلو سیمو کاکړۍ غاړې راټولي کړې او چاپ کړي دي، خو دلته به د خیر محمد عارف صاحب د کتاب "د غاړو ادبي څېړنه" څخه ځیني غاړې راواخلو:

تور کمیس لستوڼي شنه

کډي وهي د ببلتانۀ

په دې غاړه کښې دشین او سُور رنګ د جامو ذکر شوی دی، او یوې ځاي کوچیاني ټولني د لېږد منظر په نظر راځي، د ږوب د ناوې شاوخوا کډي په پسرلي کښې خُراسان ته خېژي او په مني (سوړمني) کښې راکوزیږي، دلته د ښځو جامې په عمومي توګه د شوخُو رنګونو څخه جوړي وي، چي پکښې پاخه شین، تور، سُور، زرغون، او هلواني رنګونه کارول کیږي، په دې غاړۀ کښې د "ببلتانۀ کډي وهل" یو داسي ترکیب دی چي اوچت هُنري زوق ورڅخه څرګندیږي- د سید خیرمحمد عارف صاحب په دې یاد اثر کښې ګڼ شمېر کلتوري، قدرتي، ښکلائیز قدرونه او علامتونه راخیستل شوي دي، چي پکښې تر شلو ذیاتي داسي ګېڼې یادي شو ي دي چي په دې سیمه کښې د ښحینه سینګار لرغوني توکي پاتي شوي دي، په دې کښې زړونګې، ډېډي، ږنګ، ښپلۍ، امېل، جارۍ، چارګل ،پېزوان، امېل، پاوونه، کنګڼ،نتکۍ، ګُل ماخۍ، باهو، غاړګۍ، او نوري بلها ډېري ګېڼې راوړل شوي دي- د دې سره په دې غاړو کښې مونږ د واده ښځي او پېغلي د مخصوصو جامو رنګونه، ډیزائینونه، او نخښې وینو- په لاندي غاړو کښې مونږ د ځینو ګېڼو او د روایتي جامو ذکر لوستلی شو-

زه بې کښېږدم پر دېوال

ګران که چارګل وړې که پېزوان (21)

چې راووځي له خېمو

تولي کنګر وي په پاوو (22)

زه مئین یم ستا پر خُله

راکه لونګ د تپارۀ (23)

زما د سپینو پائڅو یار دی

چې پرېږدم پښتنو عار دی (24)

اوس به لو کوي نرۍ

لمر بې تودې کي ګل ماخې (25)

رانښکاره د ګران کیږدۍ

وزر کوم د خوشحالۍ (26)

پر هر دښت کیږدۍ ولیاړه

کور ده کوم یو دی مالداره (27)

یکړ ستا په غاړۀ نه دی

ګربوان خوی د پښتانۀ دی

لوړ اوور له کښې برښَني

ما په رود وړې سروبني (28)

اوړی رالی زمی ترسوی

ستا میلڼ لونو بر سوی (29)

زما پر سر د ګل ټیکری

ګرانه بې ځایه دي مانې

ګرانه لوی پټکی ترۀ

چي یو ده بل ځي په سایه

هر سړی پټکی تر سر کي

ځان له ګرانه برابر کي

دلته چي کوم منظرونه موږ ته په نظر راځي هغۀ د اولسي ژوند ریښتوني او عملي حقیقتونه دي، که څه هم په دې لوړو غاړو کښې موږ ته ډېر داسي علامتونه دي چي اوس د ښاروال او باسیواده (خوانده، تعلیم یافته) کهول له اجتماعي زوق او یاداښت څخه وتلي دي، او د ښکلا ډېرو علامتونه اوسمهالي شاعرۍ ته لاره نه ده موندلې، پرته د امېل ، نتکۍ، پېزوان، چارګل، موږ ته د ښکلا دغۀ نور علامتونه ګونګ شوي دي خو په لري او کلیوالو سیمو کښې اوس هم دغۀ نخښې خبري کوي، معنا ښندي او د اجتماعي کلتوري حافظې برخه دي- د ښځینه جامو او ګېڼو سره سره دلته د نارینه حُسن علامتونه هم راوړل دي، پټکی یا دستار د نارینه ښکلا او د نارینه توب د جلال لپاره مهم علامتونه دي چي د پښتنو په هره سیمه کښې ځان معنا او ارزښت لري-

د دې سره سره که موږ د "اتڼ د نارو" څېړنه وکړو نو دلته هم موږ د سید خیر محمد عارف د تالیف "د اتڼ نارې" را اخلو- د اتڼ نارې که څه هم د ټپې او غاړې څخه په هیت کښې بېله، او اوږده ده، خو د ژوند هیڅ داسې حقیقت نشته چې د غاړې په لمن کښې دې نه وې ځای شوې-

چوریه! پټکی سم تړه هنر دی

یو به ښه په ایسې

وچوریه! بل د انجونو پر نظر دی

په لومړۍ مصرعه کې د پټکي سم تړل یو هنر بیان شوی دی، دغهٔ هنر ته ټولني هنر وئیلي دي، ولي چي کوم ځوک پټکی نه شي تړلی نو هغهٔ خو هسي هم په روایتي پښتنې ټولنه کي د پټکي یا دستار وړ نه ګڼل کیږي، په دویمه شپږ سیلابیزه کړۍ کي د پټکي د لومړۍ مصرعې علت بیان شوی دی یعني د ښه پټکي تړلو هنر د نارینه جمالیاتي وړتیا ذباتوي، یعني سړی ښه په ایسي، دریم د پټکي سره یو رومینټک قدر تړلی شوی دی، یعني هغهٔ دا چي انجونه هغهٔ ځوانان خوښوي چي پټکی پر سر کوي، او د تړلو هُنر یې هم زده وي-

د کاکړۍ غاړي، انګۍ (چغیانو) ، کړو غاړو غوندي، د اتڼ په نارو کښې د انجونو یا ښځو بې باکه اظهار یو کلتوري قبولیت پیدا کړی دی، په لاندي اتڼیزه ناره کښې موږ ته هم داسي دوې ناري په لاس راځي:

اسپه وم بیهاڼهٔ

د شنو زرو تعویزونو مه په غاړه

د پلار پر کور لیا ښهٔ وم

د موزي پر اخور تل شمه ولیاړه

د اتڼ په دې ناره کښې انجلۍ د خپل ښائسته او تاندي ځوانۍ تشبهه د بیهاڼي یعني له ځوانېدونکي اسپي سره ورکوي، بیهاڼهٔ چي د شنو زرو تعویزونه یې په غاړهٔ دي، خو د دې مېړهٔ یا خاوند د دې دغهٔ صفت کله هم نه دی ستائلی او دا د دې بې قدره "مېړه" پر کور تل په لوږه ژوند کولو ته مجبوره ده. دلته د مېړهٔ لپاره چي کوم لفظ "موزي" کاورل شوی دی، دا په اصل کښې هغهٔ کس دی چي د پښتونولولۍ په ټولنیز نظام کښې ورته نیم مېړهٔ یا نامرد وئیل کیږي-

هم دغهٔ ډول په یوه بله غاړه کښې هم یوې نجلۍ د خپل بخت څخه په دې ګله کړې ده چې یوه داسې کس ته ود شوې ده چې په ټولنه کښې ورته د بشپړهٔ نر حیثیت نه دی حاصل.

ولو بېدم له تخته

انګور نه یم چې تاک واچوم پر درخته

اصیلي دراهي وم

موزي وکښېم د سلطان باچا له رخته (30)

که یوه لور ته په دغه غاړو کښې موږ د زنانه مزاحمت کړهٔ وړهٔ له ورایه ښکاري، خو په دې کښې چې کوم منظر روغ شوی دی، په هغهٔ کښې تخت، د انګورو تاک، درخته، اصیله دوراهي، سلطان باچا او رخت یو ځای راوړل شوي دي- و بل پلو ته د هغوی بیانیه هم دا ده چې د کوم کس سره د هغې واده شوی دی هغهٔ د ټولني د نارینه توب په معیار نه دی پوره. داسې نر چې هغهٔ په ټولنه کښې خپل هویت نه شي ثابتولی او په څه نا څه توګه په ټولنه کښې د نورو مېړو یا نرانو غوندي خپل ذاتي ځان ګرنه ونه موندي نو هغه ته بیا د ښځینو لخوا د پېغور او رمزه ډک داسې خطابونه ورکول کیږي چې په ټولنه کښې ورته په ټيټ نظر کتل کیږي. په دې کښې "موزي، موزیګی، ښوور، سګ ګرجن ، او داسې نور نومونه د ذکر وړ دي چې په غاړو، ټپو، او نورو شفاهي صنفونو کښې یې ذکر شوی دی.هم دغهٔ ډول یوه بله غاړهٔ موږ ته نظر راځي:

زما ارواحه ښه سه

له کښېي پاله راوالوزه مرغه سه

شهین سه لنډ وزری

په اسمان کښې دا شینکۍ کوتري نسه

په دې اتهي غاړهٔ کښې موږ د روح الوت وینو، چې کښې (کوزي) څخه په لوړهٔ پرواز کوي، لنډ وزری شهین (باز) چې پاس په آسمان کښې "شینکۍ کوتري" نیسي، دلته که موږ

وګورو نو ځوان شهین او انجونه کوترې انځور شوي دي، په اولسي ژوند کښې دغهٔ دواړه مرغان (شاهین او کوتره) خپل ځانګړي صفتونه او علامتي ارزښتونو لري-

**پایله**: د پښتون کلتور د جمالیاتي قدرونو او علامتونو څېړنه ډېره مهم او ارزښتناکه ده ،پر دې موضوع یو بشپړهٔ تحقیقي پروجیکټ او د اسي کتاب لیکلو ضرورت دی چې ورسره د جمالیاتي وسائلو انځورونه هم چاپ کړل شي، خو په دې وړه شان هڅه کښې د جمالیاتي قدرونو او علامتونو پر موضوع یو پېل کول ؤ- د جمالیاتي علامتونو کومه شته مني چې په غالیو، کراستو، لرګینو ډیزائنونو، خاورینو لوښُو، اساطیري علامتونو، تعمیراتو او نورو منابعو کښې چې کوم رنګونه، ډېزائینونه، او په هغه کښې پټ پېغامونه راپلټل پاتي دي-

د دې څېړني په ترخ کښې موږ دې پایلي ته رسیږو چې د پښتني ټولني لرغوني کلتور جمالیاتي قدرونه او علامتونه یا خو د تاریخ په خړو لړو کښې مخ په ورکېدو دي، یا بیا یواځي تر کلیوالو سیمو پوري محدود پاتي شوي دي، د جمالیاتي نخښو تر ټولو ښه انعکاس په ادب او خصوصا په فوکلوري ادب کښې شتون لري، البته نوې شاعري و لرغونو جمالیاتي قدرونو او علامتونو ته نوې ژبه ورکړې ده، د ژوند معروضي ښه د جدیدو اسائشونو ، مشینونو او د آزاد معیشت او انفارمېشن ټېکنالوژي په مرسته چې کوم نوي علامتونه د پښتني ژوند ژواک برخه شوي دي، هغهٔ تر دې دمه لا و ادب او آرټ ته لاره نه ده موندلې-

## References


1) Harari, Y. N. (2023). *Yuval Noah Harari on what history teaches us about justice and peace [Interview transcript]*. Interviewer's Name. Website .https://www.ted.com/podcasts/rethinking-with-adam-grant/yuval-noah-harari-on-what-history-teaches-us-about-justice-and-peace-transcript
2) Haroon, Muhammad. "Concept of Aesthetics of Rahman Baba." *Pashto* 48, no. 657 (2019).
3) رسا ، عبدالرسول (تاريخ نامعلام)، ادبي تنقيد ،يونيورستي بُک ايجنسي پېښور- مخ ۴۷
4) Koerner, E. F. (2013). *Ferdinand de Saussure: Origin and development of his linguistic thought in western studies of language* (Vol. 7). Springer-Verlag.
5) Saussure, Ferdinand de. *Course in General Linguistics*. Edited by Charles Bally and Albert Sechehaye, with the collaboration of Albert Riedlinger, translated by Wade Baskin. New York:. Philosophical Library, 1959.
6) Vichnar, D., & Armand, L. (2017). *Aisthēsis*. In *Oxford Research Encyclopedia of Literature*. Oxford University Press. https://doi.org/10.1093/acrefore/9780190201098.013.104
7) Tracy, H. L. "Aristotle on aesthetic pleasure." *Classical Philology* 41.1 (1946): 43-46.
8) Zuckert, Rachel. "The purposiveness of form: A reading of Kant's aesthetic formalism." *Journal of the History of Philosophy* 44.4 (2006): 599-622.
9) Hegel, G.W.F. *Aesthetics: Lectures on Fine Art*. Translated by T.M. Knox. Oxford: Clarendon Press,.1975
10) ناصر،ڈاکٹر نصیر احمد۔ آرزوئے حُسن، فیروز سنز لاہور، اشاعت دویم، ۱۹۸۹۔ صفحہ ۵۴
11) حسن، سبط (۲۰۱۲) پاکستان میں تہذیب کا ارتقا، مطبع ذكي سنز- كراچي۔ ص ۱۷-۱۸
12) Harvey , Janet (1996). Traditional Textiles of Central Asia . Published by Thames and Hudson p.35
13) Wilson , Thomas . (1896) "The Swastika: The Earliest Known Symbol, and Its Migration, published by Smithsonian Institution Washington D.D. p.42
14) شاهين، پېغله سلمه - (۱۹۸۹)- د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، خپرونکی پښتو اکېډمی پېښور يونيورستي، مخ ۶۳
15) همدغه اثر، مخ ۶۱

16) همدغه اثر، مخ ۶۳
17) همدغه اثر، مخ ۶۵
18) همدغه اثر، مخ ۶۷
19) همدغه اثر، مخ ۸۶
20) همدغه اثر، مخ ۶۸
21) عارف، سید خېرمحمد (۱۹۹۵) د غاړو ادبي څېړنه ، ادبي ملګري لورالائي، مخ ۳۳
22) همدغه اثر، مخ ۳۳
23) همدغه اثر، مخ ۲۹
24) همدغه اثر، مخ۳۷
25) همدغه اثر، مخ ۴۸
26) همدغه اثر، مخ ۴۷
27) همدغه اثر، مخ ۴۶
28) همدغه اثر، مخ ۴۵
29) همدغه اثر، مخ ۴۵
30) عارف، خیر محمد ، (۲۰۰۵) ، د اتڼ ناري، پښتو اکیډمۍ کوئټه ، مخ ۱۵۸
31) هم دغه اثر ۱۷۷